# اوبه د تیلو او سمندري بندر
# په بدل کې



۱۳۹۸ هـ ش

# Water in Exchange of Oil and Sea Port

Dr. Ghulam Farooq Azam

2019

ISBN 978-9936-645-56-1

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

د علومو اکاډمي

د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز

# اوبه د تېلو او سمندري بندر په بدل کې

(د هلمند سیند اوبه او د افغانستان او ایران اړیکې)


**لیکوال: دکتور غلام فاروق اعظم**

(د لندن په پوهنتون کې د اوبو د مسایلو د څېړونکې ډلې غړی)

**ژباړن: عبدالاله خوشحال رحماني**



**۱۳۹۸ هـ.ش**

## د کتاب ځانګړني

**د کتاب نوم:** اوبه د تېلو او سمندري بندر په بدل کې

**لیـکوال:** دکتور فاروق اعظم

**سمون او اهتمام:** څېړنوال رفیع الله نیازی

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**د چاپکال:** ۱۳۹۸ل/ ۲۰۱۹ ز

**مطبعه:** چهاردهي صنعتي مطبعه

**د چاپ شمېر:** ۵۰۰

ISBN: 978-9936-645-56-1

بسم الله الرحمن الرحیم

و جَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كلَّ شَیءٍ حَی (صدق الله العظیم)

او په اوبو مو هر شی ژوندی کړی دی (۲۱:۳۰)


د بې آب سړي په مخ کې وي آب چیرې؟

هغه خلک خو بې آب دي چې بې آب وي

(رحمان بابا)

## ډالۍ


دا کتاب د هغو افغانانو او ایرانیانو پوهې او مېړانې ته اهداء دی، چې د خپلو ولسونو د گټو لپاره یې اوبه د تېلو او له سمندري بندر څخه د گټې اخیستنې په بدل کې تبادله کړې او په ۱۳۵۱ل (۱۹۷۳م) کال یې د هلمند سیند د اوبو تړون لاسیک کړ او دا کتاب هغو افغانانو او ایرانیانو ته اهداء دی، چې د تړون متن او روح ته صادقانه ژمن دي.




د افغانستان د اوبو څلور حوزې، په خړ رنگ د هلمند سیند د اوبو حوزه




لښکرگا ته نږدې د هلمند سیند (کب – ۱۹۹٦ل / ۲۰۱۷م)




د هلمند او ارغنداب د ناوې پروژه – ۱۳۵۷ل / ۱۹۷۸ز

## د مرکز یادښت

د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز ویاړي، چې دا ځل د افغانستان او سیمې د یوې ډېرې مهمې او حیاتي موضوع، یعنې له ایران سره د هلمندسیند د تړون، په تړون پورې د اړوندو تاریخي مسایلو او د هلمند سیند په حوزه کې د ځینو نورو مهمو موضوعاتو په اړه یو جامع څېړنیز اثر چاپوي.

د افغانستان او ایران تر منځ د هلمند سیند د اوبو د تړون په اړه په ځینو نورو آثارو کې هم معلومات شته، خو ددې څېړنیز اثر لیکوال ښاغلي دکتور فاروق اعظم دا موضوع د تاریخي سیمه ییزو واقعیتونو، ننګونو، فرصتونو او د نړیوالو زبرځواکو د رول په رڼا کې داسې څېړلې، چې تر دې وړاندې یې ساری نه و.

ددې اثر ارزښت په دې کې دی، چې افغانستان په کور دننه د روانو طبیعي اوبو پراخې سرچینې لري، چې د کال په نږدې ټولو موسمونو کې اوبه لري؛ تر څنګ یې افغانستان ځینې داسې سیندونه هم لري، چې ټولې یا نږدې ټولې سرچینې یې په افغانستان کې دي او ډېره برخه یې هم په افغانستان کې بهېږي، خو په پای کې په ځینو ځایونو کې د افغانستان له پولو د سیمې نورو هېوادونو ته اوړي او ډېره لږه برخه یې هلته بهېږي. افغانستان اړ دی او سخت ضرورت لري، چې د خپلو کرنیزو اړتیاوو یا د کرکیلې د ځمکو خړوبولو، د برېښنا د تولید او یا د طبیعي اوبو له موسمي ګواښونو څخه د خلاصون لپاره په کور دننه خپلې اوبه مدیریت کړي، نو ددې اثر منځپانګه په ځانګړي ډول له ایران سره د هلمند سیند د اوبو د تړون د تاریخي بهیر او په سیمه کې د ځینو نورو هېوادونو تر منځ د سیندونو د اوبو پر سر شوی تعامل به په راتلونکې کې له افغان مشرانو سره د ورته تړونونو په تخنیکي او حقوقي برخو کې د یوه لارښود اثر په توګه ډېره مرسته وکړي او

ورسره به په کور دننه د اوبو د مدیریت په برخه کې هم اغېزمن رول ولوبوي. ددې تر څنګ ددې اثر محتوا، تحلیلونه او نورې برخې به د اوبو او سیمه ییزې ډیپلوماسۍ په برخه کې له څېړونکو، د سیمه ییزو مسایلو له لیکوالو او شنونکو او د افغانستان د بهرنۍ پالیسۍ له جوړوونکو سره هم مرسته وکړي، ځکه چې ددې اثر لیکوال پخپله د هلمند ناوې په پروژه کې د عملي ماموریت پر مهال هر څه په خپلو سترګو لیدلي او څارلي؛ تر څنګ یې د هلمند سیند د حوزې له ټولو جغرافیوي، سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو واقعیتونو، ننګونو، ستونزو، خنډونو، اسانتیاوو او فرصتونو څخه په ښه ډول خبر دی او د خپل سیاسي موقف له امله ورته ددې زمینه هم برابره وه، چې د څو لسیزو په بهیر کې یې د دې موضوع په اړه له بېلابېلو سرچینو څخه لومړي لاس معتبر معلومات راټول کړي او دا اثر یې ترې بشپړ کړی، یعنې د هلمند سیند د تړون، په تړون پورې د اړوندو موضوعاتو او د هلمند وادي په اړه ښایي داسې د معلوماتو سرچینې او مأخذونه بل څېړونکي یا لیکوال ته برابرې نه شي، نو همدغه اصل ته په کتو دا څېړنه په خپل ډول کې ارزښتمنه ده.

د افغانستان د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز بسنتیزه موخه د سیمې د سیاسي، اقتصادي، فرهنګي، مذهبي او نورو هغو مسایلو څېړل او د هېوادوالو خبرول دي، چې په یو نه یو ډول، په لنډ یا اوږد مهال کې پر افغانستان منفي یا مثبتې اغېزې لري، همدغه اصل ته په کتو له هېوادوالو سره ددې اثر د منځپانګې شریکول ډېر اړین وو، نو ځکه یې مرکز د چاپ تابیا وکړه.

د یادونې وړه ده، چې لیکوال د مسایلو د څېړلو تر څنګ په ځینو برخو کې خپل تحلیلونه هم وړاندې کړي، نو د لیکوال نظریات د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز د پالیسۍ او اهدافو استازولي نه کوي.

په پای کې زه له خدای تعالی څخه ښاغلي دکتور فاروق اعظم ته روغ صحت، هوسا ژوند او ددغه ډول نورو علمي- څېړنيزو آثارو د ليکلو توفيق غواړم.

د سوکاله او پر خپلو منابعو د تکيه افغانستان په هيله

څېړنوال رفيع الله نيازی

د سيمه ييزو مطالعاتو مرکز رئيس

# لیکلړ

**سرلیک** **مخګڼه**

پیلامه ........................................................................... أ

سریزه ............................................................................ ۱

## لومړی فصل

## بهرني منځګړتوبونه

په هلمند او ارغنداب ناوه کې ...................................... ۱۳

د ګولډسمید حکمیت ................................................. ۲۰

د ماکماهون حکمیت .................................................. ۳۰

د ماکماهون ترحکمیت وروسته ......................................۳٦

د هلمند سیند دلتا ...................................................... ۳۷

د ۱۳۱۸ل(۱۹۳۹م) کال ناکام تړون .................................٤۳

## دوهم فصل

## د هلمند د جوړېدو د نوي عصر پیل

## درېیم فصل

## د هلمند-ارغنداب ناوې عصري پراختیا، د افغانستان او ایران اړیکې

د موریسن کنوډسن کمپنۍ دوره (۱۹۴۵-۱۹۵۹م) ....................... ۵۳

د هلمند پروژه له ۱۹۴۵م څخه تر ۱۹۵۵م پورې .......................۵٤

د واشنګټن کنفرانس، ۱۳۳۵ل (۱۹۵٦م)..................................۸٤

د هلمند-ارغنداب ناوې دپراختیا پرکار ................................ ۹۳

## څلورم فصل

## د هلمند-ارغنداب ناوې عصري جوړونه، د افغانستان او ایران اړیکې

د امریکا مستقیمه بوختیا (۱۹۵۹-۱۹۷۳م) ............................... ۹۹

د ۱۳۵۱ل (۱۹۷۳م) کال د اوبو د تړون مهم ټکي ......................۱۱۱

## پنځم فصل

## د هلمند سيند د ګډپولو اوبو سياست

ننګونې او ګواښونه..................................................... ۱۱۸
ايران"د اوبو د منابعو د کنټرول سټراټيجي" پرمخ وړي ....................... ۱۲۰
د اوبو په لټه کې........................................................ ۱۲۵
د اوبو زورواکي ........................................................ ۱۲۶
د اوبو تړونونه......................................................... ۱۲۷
د اوبو د منابعو سټراټيجي.............................................. ۱۲۹
علم او پوهه ........................................................... ۱۲۹
نړيوال قانون.......................................................... ۱۳۱
قدرت او واک........................................................... ۱۳۲
د ځنډولو تاکتيک ....................................................... ۱۳۲
اجباري غاړه ايښودل.................................................... ۱۳۷
پټ عمليات ............................................................ ۱۳۷
اوبو ته له ملي امنيت سره تړاو ورکول .................................... ۱۳۸
استعماري ميراث......................................................... ۱۳۹
خپلواکي او حاکميت.................................................... ۱۴۵
ځواکمن ملګرى ........................................................ ۱۴۷
اقتصادي او مالي حالت ................................................. ۱۴۹
پر سيند موقعيت......................................................... ۱۵۰
د زورواکۍ ضد حالت.................................................... ۱۵۱
ثبات او ولسي ملاتړ..................................................... ۱۵۱
اوبه او د خوراکي امنيت ننګونې ......................................... ۱۵۳
د خوراکي موادو لپاره پرخپل ځان تکيه ................................... ۱۵۴

د خوراکي موادو امنیت ........................................ ۱۵۵

## شپږم فصل

## هلمند او پر اوبو سربېره نورې موضوعګانې

طالبان او داعش په هلمند کې ........................................ ۱۵۷
د هلمند سیند په حوزه کې نشه یي توکي ........................................ ۱۶۱
تېل، برېښنا او د هلمند د اوبو منابع ........................................ ۱۶۵
د چابهار سمندري بندر ........................................ ۱۷۱
هند، ایران او چابهار ........................................ ۱۷٤
ګوادر سمندري بندر ........................................ ۱۷۵
چابهار د ګوادر په مقابل کې ........................................ ۱۸۰
افغانستان او په سیمه کې د اوبو سیاست ........................................ ۱۸٦

## اووم فصل

## د اوبو په اړه همکاري او د ګټو شریکول

په تاریخي اساس ........................................ ۲۰۰
دوه اړخېزه همکاري ........................................ ۲۰۱
همکاري او نسبي ګټې ........................................ ۲۰۵
سیاسي اراده ........................................ ۲۰٦
ظرفیت جوړونه او د موسساتو جوړښت ........................................ ۲۰٦
جامع لار ........................................ ۲۰۷
د معلوماتو تبادله ........................................ ۲۰۷
د عام ولس مشارکت ........................................ ۲۰۷
ګټې او د لګښت شریکول ........................................ ۲۰۷
قانوني چوکاټ ........................................ ۲۰۸
د اوبو معاهدې، پروټوکولونه او تړونونه ........................................ ۲۱۱

**نتیجه** ........................................................................ ۲۱۳
**وړاندیزونه** ..................................................................... ۲۲۳
**مأخذونه** ....................................................................... ۲۲۷
لومړۍ ضمیمه د گولډسمید حکمیت ............................................ ۲۴۷
دوهمه ضمیمه د ماک ماهون حکمیت .......................................... ۲۵۲
درېیمه ضمیمه د **۱۹۳۹**م کال قرارداد ........................................... ۲۶۰
څلورمه ضمیمه د هلمند رود د دلتا د کمیسون راپور ........................... ۲۶۳
پنځمه ضمیمه د افغانستان او ایران تر منځ د **۱۳۵۱**ل کال .................... ۲۷۲

# پیلامه

د دې اثر لیکل یو لوی سفر دی. د هلمند رود د اوبو له حوزې سره زما لېوالتیا یوازې له دې امله نه ده، چې زه په همدې سیمه (کندهار) کې زېږېدلی او لوی سوی یم، بلکې ما د هلمند-ارغنداب وادي د اوبو د سرچینو په پراختیا کې د ۱۹۶۰م لسیزې په وروستیو کلونو او په ۱۹۷۰م لسیزه کې کارکړی دی. په ۱۹۱۰م لسیزه کې زما نیکه، خدای بخښلی نورمحمد خان د هلمند پروژې د آبادولو لومړنی مدیر او د سراج کانال د جوړولو د کار مسؤل و. د هلمند سیند د بهېدو له سیمې سره زما د ژوند د ډېرو کلونو د لېوالتیا په بهیرکې ما دا درک کړه، چې په افغانستان کې له ګټې اخیستنې پرته ډېرې اوبه له هېواده بهر ته بهېږي. د هلمند سیند پر دواړو غاړو خورا ډېرې د کر وړ ځمکې سته، خو بې حاصله او وچې پاتې او افغانان د خپل یوه داسې سیند پر غاړو، چې تل له اوبو ډک وي، تږی ژوند کوي.

له هماغه وخت راسره دا پوښتنه وه، چې ځرنګه له دې حیاتي سرچینې (اوبو) څخه اعظمي ګټه پورته کړو؟ ما خپل د ماسټرۍ او دوکتورا تیزسونه د هلمند-ارغنداب پروژې پر آبادۍ او ددې حوزې له اوبو څخه پر ښه استفاده باندې لیکلي او په حکومت کې دوه ځله د وزیر په توګه د دندې تر سره کولو له ما سره د حکومتي مهمو اسنادو په تر لاسه کولو کې هم مرسته کړې ده. ما له هغو خلکو سره هم لیدلي، چې د هلمند په چارو کې یې تصمیم نیونکی رول درلود، لکه ظاهر شاه، داودخان، د هغوی د حکومتونو وزیران، سفیران، والیان او نور ډېر جګپوړي حکومتي ماموران.

ما له ځینو هغو امریکایانو سره هم خبرې کړي، چې د هلمند- ارغنداب په پروژه کې یې کار کړی و. دغو ټولو لیدنو، کتنو او په سیمه کې زما عملي کار د هلمند سیند د اوبو له سرچینو څخه د ګټې اخیستنې په اړه زما مینه ډېره کړه او زه یې وهڅولم، چې په دې اړه نورې زده کړې او څېړنې هم وکړم. د څېړنو او پلټنو په پایله کې ما د هلمند سیند د حوزې، په ځانګړي ډول د هلمند سیند د اوبو په تړاو د افغانستان او ایران په اړه زښت ډېر مهم او لومړی لاس اسناد را غونډ کړل.

د افغانستان د څلوېښت کلنو غمجنو حالاتو له امله، چې زه یې هم له قربانیانو څخه یم، ما و نه سو کړای دا راغونډ کړي اسناد تألیف او پر خپل وخت یې چاپ کړم. همدا راز له بده مرغه دا هم آسانه نه وه، چې زما د سخت، ربښه کښونکي او د مهاجرت د ژوند په دوران کې چې د ۱۳۵۷ل (۱۹۷۸م) کال په ثور میاشت کې په افغانستان کې د کمونیستي کودتا په تر سره کېدو سره پیل سو، ټول راغونډ کړي اسناد وساتم. ما د هجرت په ټوله دوره کې دغه اسناد لکه د یوه مهاجر ماشوم په شان له ځان سره له یوه ځایه و بل ځای او له یوه هېواده بل هېواد ته لېږدولي دي. ما یو مهال دغه اسناد پر یوه فلاپي ډسک ذخیره کړل، څو کاله وروسته کله چې ما څه فرصت پیدا کړ، چې پر دغو اسناد بیا غور وکړم، له بده مرغه ځینې اسناد ضایع سوي او یا د ویلو وړ نه وو. همدا ډول په دغو مهاجرتونو او بېځایه کېدو کې راڅخه خپل ځینې شخصي یاداښتونه هم ورک سول چې په یقیني ډول سره به یې ددې کتاب د محتویاتو په غني کولو کې مرسته کړې وای، نو ما په دې اثر کې هغه څه راوړي، چې له ورکېدو څخه ژغورل سوي دي.

زه، چې په افغانستان کې د شوروي اتحاد د نظامي حضور پر خلاف د جهاد برخه وم او تر څه وخته مې کورنۍ په افغانستان کې وه، نو د امنیتي دلایلو له امله ملګرو مشوره راکړه او ان اړ یې کړم، چې خپل نوم له غلام

فاروق څخه و فاروق اعظم ته واړوم. له ۱۳۵۹ل(۱۹۸۰ز) کال څخه تر مخه زما نوم، زما په ټولو لیکنو کې غلام فاروق دی. زما ټول تعلیمي اسناد د لیسانس، ماسټرۍ او دکتورا په شمول د غلام فاروق په نامه ثبت دي، خو له ۱۳۵۹ل (۱۹۸۰م) څخه وروسته ما د ځان لپاره د فاروق اعظم نوم کارولی، چې دې کار یوه پېچلتیا رامنځته کړې؛ په ځانګړي ډول په کتابونو کې د مأخذونو د کښلو پر مهال، چې ایا زما لومړی نوم غلام دی، که فاروق؛ یا زما کورنی نوم فاروق دی که اعظم. بالاخره مې پر دغه کتاب چې ستاسو په لاس کې دی خپل نوم غلام فاروق اعظم ولیکه.څېړونکي باید اوس زماکتابونه تر دوو نومونو (فاروق او اعظم) لاندې ولټوي.

ما دا اثر په ۱۳۸۱ل (۲۰۰۲م) کې بشپړ کړ، خو له پرلپسې هڅو سره سره مې و نه کړای سول، چې چاپ یې کړم. په ۱۳۸۰ل (۲۰۰۱م) کې د امریکا د متحده ایالاتو له خوا پر افغانستان له برید راهیسې زما فکر او ذهن د هېواد ناوړه حالت ته متوجه دی، زه په فعال ډول په افغانستان کې د جګړې د بندېدو او د سولې د ټینګښت پر هڅو بوخت یم او ټول ژوند، خپله پوهه او اوږده تجربه مې همدې خدمت ته وقف کړي، ځکه زما ټینګ باور دی چې له سولې پرته په هېواد کې ډېره لږه دوامداره بیارغاونه او آبادي هم نه شي رامنځته کېدای او اداري فساد، ناقانوني او کمزوری مدیریت هم تر ډېره بریده د جنګ زېږنده دي.

څرنګه چې دا جګړه اوږده سوه، نو اوس مې ددې اثر د چاپولو تصمیم ونیو؛ ځکه چې خدای مه کړه راپاته مواد او یاداښتونه یو ځل بیا ورک او ضایع نه سي. ما په دې اثر کې ځینې معلومات اضافه کړي او د ځینو موضوعګانو تحلیلونه مې هم نوي کړي، لکه د هېوادونو ترمنځ د مشترکو اوبو د وېش سیاست، تر سرې جګړې او د شوروي اتحاد تر سقوط وروسته

په سیمه کې را منځته سوې پېښې او په ۲۰۰۱م کې پر افغانستان د امریکا د متحده ایالاتو برید او زموږ پر اوبو یې اثرات.

پر دغه سربېره، په دې اثر کې مې د تاریخ په رڼا کې د افغانستان او ایران ترمنځ د اوبو پر سر د اړیکو په اړه د اوبو د رسمي تړون او له دواړو خواوو څخه د نوموړي تړون د شرطونو د عملي کولو په تړاو یو پراخ تحلیل هم وړاندې کړی دی. همدارنګه، په دې کتاب کې له اوبو پرته د ځینو نورو موضوعاتو، چې د اوبو له مذاکراتو او تړون سره یې ټینګه رابطه وه، یادونه هم شوې؛ لکه تېل او سمندري بندر ته لار، چې بالاخره د ۱۳۵۱ل (۱۹۷۳م) کال د اوبو د تړون برخې سوې.

د نیل، فرات او نورو نړیوالو لویو رودونو په حوزو کې مې د خپلو کاري تجربو پر بنیاد د اوبو سیاست او په تړاو یې تفوق غوښتنه (هیجوموني) څېړلې او د هغوی په تناظر کې مې د هلمند رود د اوبو پر سر له ایران سره اړیکې څېړلې دي. د دغو ټولو علمي څېړنو په نتیجه کې مې خپل نظر وړاندې کړی او ویلي مې دي، چې په لفظ او روح سره د دغه تړون عملي کول، د دواړو هېوادونو په ګټه دی. دا نظر مې هم وړاندې کړی، چې له ایران سره د هلمند رود د اوبو پر سر له مذاکراتو او قرارداد څخه په استفاده افغانستان څنګه کولای سي د خپلو اوبو په اړه له نورو ګاونډیانو سره هم خبرې وکړي.

همدا راز ما په دې اثر کې د چابهار بندر په اړه، چې له ایران سره د ۱۳۵۱ل (۱۹۷۳م) کال د هلمند سیند د اوبو د تړون یوه برخه ده، مبسوط تحلیل وړاندې کړی دی. د چابهار بندر د هند په تخنیکي مرسته جوړېږي او چین په پاکستان کې ګوادر بندر، چې د چابهار بندر د ختیځ په ۱۰۰ کیلو مترۍ کې واقع دی، جوړوي. په عرب سمندرګي کې ددغو دوو بندرونو اهمیت او له چین، ایران، پاکستان، هند او د امریکا له متحده ایالاتو سره د افغانستان پېچلې اړیکې دلته څېړل شوې دي. افغانستان ته د امریکا راتګ

او په افغانستان کې د امریکا او ناټو د سرتېرو موجودیت، د هلمند د اوبو سیاست ته په سیمه کې یوه نوې بڼه ورکړې ده.

که دا اوږده کېسه را ټوله کړو، دې اثر د اوبو پر سر له ایران سره د افغانستان د ماضي او حال داسې غنیمت معلومات، علمي څېړنه او وړاندیزونه رامخته کړي، چې که عملي سي د افغانستان او ایران د دواړو په ګټه دي. دلته د هلمند سیند اوبه کېدای سي د سیمه ییزې همکارۍ یو مهم فکټور او دا ډول نورو منازعاتو ته یو ښه مثال او الګو سي.

### ددې څېړنې اهمیت

- افغانستان یو غرنی هېواد دی او د ډېرو سیندونو اوبه یې بهر و ګاونډیو هېوادنو ته بهېږی. دا څېړنه کېدای سي په راتلونکې کې د افغانستان له ګاونډیانو سره د اوبو په خبرو کې ګټوره وي.
- دا څېړنه له دې امله هم بې سارې او منحصر په فرد ده، چې تر اوسه د هلمند سیند د اوبو د سیاست په اړه دا ډول جامع څېړنه نه ده تر سره سوې.
- دا څېړنه به د هلمند رود د حوزې د نور انکشاف لپاره د څېړنو یوه اعتباري سرچینه او مأخذ وي.
- دا څېړنه کېدای سي په ټوله نړۍ کې د مشترکو اوبو د سیاست په هکله یوه ګټوره څېړنه وي.
- ښایي ډېر لږ کسان ددې کتاب د لیکوال په موقف کې وي، چې په آسانۍ سره ددغسې یوې مهمې څېړنې په اړوند لوړ رتبه خلکو او مهمو اسنادو ته لاسرسی ولري.

- د نیل او فرات سیندونو په حوزو کې د لیکوال کاري تجربه، د نوموړو سیندونو په اړه د چاپي موادو بشپړه کتنه او د هلمند سیند د اوبو په سیاست کې له دغو علمي څېړنو او تجربو څخه ګټه اخیستل، دې څېړنې ته د پام وړ قوت وربخښلی دی.

په انګلیسي ژبه د دې اثر د لیکلو سبب دا و، چې د دې کتاب ډېره برخه په لندن کې زما لیکچرونه وو. زه د لندن په پوهنتون کې وهڅول سوم، چې دا کتاب هلته چاپ کړم؛ ماته یې څه مادي ګټه هم راکوله، خو ما غوښتل په کابل کې یې چاپ کړم، چې ډېر خلک ورڅخه ګټه واخلي، ځکه اوس په افغانستان کې انګلیسي ژبه د ډېرو ځوانانو زده ده.

که په انګلستان کې چاپ سوی وای، صحافت به یې ښه وای، خو ډېره به ګرانه وای، چې تر افغانستانه یې کافي شمېر نسخې رارسېدلې وای.له نېکه مرغه ځینو دوستانو، لکه ډاکټر قادر ودان، ایمل مومند، ډاکټر داود جنبش، ډاکټر عبدالباقي پوپل، ډاکټر عبدالواسع قانع او نورو وعده کړې ده، له ټولو څخه مننه کوم کتاب په انګلیسي ژبه چاپ سو.

زما ډېرو مصروفیتونو فرصت رانکړ، چې کتاب پخپله پښتو ژبې ته وژباړم. کله چې محترم ورور عبدالاله رحماني (خوشحال) چې په لندن کې اوسي دغه کتاب په انګلیسي ژبه کې ولوست، خوښ یې سو او له ما څخه یې ددې کتاب د ژباړې اجازه وغوښته، چې د عامو افغانانو د استفادې وړ سي، ما اجازه ورکړه او ډېره مننه هم ترې کوم، چې دغه کار یې خپلو وطنوالو ته د خدمت په منظور په ډېر اخلاص وکړ. خوشحال جان یو لوستی ځوان او د کندهار په یوې محترمې او د خیر په کورنۍ پورې اړه لري. دغه اوسنی د خیر کار (د کتاب ژباړه) یې هم د خپلو اسلافو د خیرونو د میراث یوه برخه ده.

د افغانستان د بهرنیو چارو په وزارت کې د ډپلوماسۍ انستیتوت مشر ښاغلي ډاکټر محب سپین غر ماته ویلي وو، چې کتاب موږ درچاپوو. زه د سپین غر صاحب ډېر منندوی یم. ما غوښتل د کتاب ژباړه تر چاپ دمخه د پښتو ژبې یو متخصص ته ورکړم، چې معیاري پښتو یې باوري کړي. په دغه سلسله کې مې څو کسانو ته وویل، چې ټولو په ډېر اخلاص ټېر وواهه، خو دافغانستان په علومو اکاډمۍ کې د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز مشر څېړنوال رفیع الله نیازی په خپل اخلاص راباندې زور سو، هغه د کتاب د پښتو ژبې کتل او چاپ دواړه پر غاړه واخیستل. دعا ورته کوم چې پر څوانۍ یې برکت او هېواد ته د نور خدمت مصدر سي. له علومو اکاډمۍ هم منندوی یم، چې دغه گټور کتاب یې چاپ کړ.

# سریزه

د هلمند سیند د نړۍ پنځه پنځوسم اوږد سیند او د اسیا په کچ نولسم له اوبو ډک بهېدونکی سیند دی، چې په مرکزي افغانستان کې د کابل د شمال لوېدیځ په ۴۰ کیلو مترۍ کې د بابا غره له سلسلې څخه سرچینه اخلي. د هلمند سیند د افغانستان په جنوب لوېدیځ کې له څه نا څه تر ۱۱۵۰ کیلو متره اوږدې فاصلې بهېدو وروسته ۲۷ کیلومتره له ایران سره د افغانستان ګډ سرحد جوړوي (له ۵۱ څخه تر ۵۴ پایو پورې).

د هلمند رود بېرته له ایران سره سرحد پرېږدي، شمال ته د افغانستان په خاوره کې خپل مسیر ته ادامه ورکوي او بیا د پوزک په هامون (ژوره) کې چې په افغانستان کې دننه واقع دی تویېږي. کله چې په هلمند رود کې د سیلابونو اوبه ډېرې سي، نو له پوزک څخه د غرب خوا ته صابري هامون (ژوره) ته اوړي چې د افغانستان او ایران پر ګډ سرحد واقع دی. که اوبه بیا هم ډېرې سي، نو له صابري هامون څخه جنوب خوا ته د هلمند هامون یا ژورې ته ځي چې ټول د ایران په خاوره کې پروت دی. کله چې اوبه بیا هم ډېرې سي، نو د شیلې له لارې د هلمند له هامون څخه د جنوب شرق خوا ته بېرته افغانستان ته را اوړي، په ګودزره کې تویېږي او د ګودزره لویه ژوره دښته ټوله د افغانستان په خاوره کې واقع ده.

د هلمند سیند د افغانستان تر ټولو اوږد سیند هم دی او له دې سیند سره د هېواد په بېلابېلو برخو کې ځینې مرستندویه سیندونه هم یو ځای کېږي، چې مهم یې د تېرین، موسی کلا او ارغنداب سیندونه دي.

د هلمند سیند دوه ځانګړي خاصیتونه لري چې هم د غرونو په منځ او هم په اوارو سیمو کې بهیږي. د دې سیند د غرنیو سیمو ډېره برخه د هېواد د جنوب د غرونو په لمنو کې پرته ده، چې سیند مخ پر کښته پکې بهیږي او له دغو سیمو څخه د سیند ځینې وړې څانګې سرچینه اخلي، چې مهم یې د ارغنداب او موسی کلا رودونه دي. لښکرګاه ته نژدې د بست له سیمې څخه د هلمند سیند د رېګستان او مارګو دښتو ته ورننوځي او هلته د څه نا څه ۳۰۰ کیلو مترو فاصلې له وهلو څخه ورووسته چاربرجک ته رسیږي چې له همدغه ځای څخه د کښته یا کوز هلمند دلتا پیلیږي.

د هلمند سیند په حوزه کې د ټول افغانستان له بهېدونکو اوبو څخه څه نا څه ۴۳سلنه اوبه سته او په نژدې ۲۵۰۰۰۰ کیلو متره مربع سیمه کې، چې د ټول هېواد د مساحت څه نا څه یو پر درېیمه برخه ده، بهیږی.

د هلمند سیند د اوبو کیفیت له ښه څخه تر اعلی پورې دی او د دې سیند د اوبو حوزه په اسیا کې د نفوسو درلودو په لحاظ یوولسم مقام لري.

په هلمند کې په تخمیني ډول ۳۰۰۰۰۰ هکتاره خړوبونکې ځمکه سته او د هلمند په وادي کې د زښتو ډېرو خړوبوونکو ځمکو او د یوه مناسب اقلیم موجودیت، هلته کرهنې ته د پام وړ ظرفیت ورکړی دی. د سیند د بهېدو په سیمو کې د زراعتي محصولاتو د کرلو موده په کال کې له ۳۰۰ څخه تر ۳۲۰ ورځو پورې ده. د غزني په ناور کې د نبات د ودې دغه موده یوازې ۸۸ ورځې ده. د ښو زراعتي محصولاتو لپاره درې مهم عوامل، لکه اوبه، ځمکه او اقلیم په ندرت ټول د افغانستان په نورو سیمو کې یوځای موندلای سو؛ خو په هلمند کې ټول یو ځایي موجود دي. کله چې په یوه سیمه کې د تبخیر اندازه د ورښت له اندازې څخه لس برابره ډېره سي، یا په بل عبارت کله چې ۲۰۰۰ ملي متره تبخیر د ۱۹۵ ملي متره ورښت په پرتله پېښیږي، بیا نو د یوه منظم اوبه خور نظام اړتیا رامنځته کیږي. پر دې سربېره،

د اقلیم بدلون او د نړیوالې تودوخې له امله په افغانستان کې د هغو واورو د وریدو اندازه لږه سوې، چې په ورو ورو به ویلې کیدې. ورسره په افغانستان کې د څلورو لسیزو جګړو په بهیر کې د ځنګلونو د له منځه تلو له امله د باران له اوبو څخه سیلابونه جوړیږي او د کرکیلې حاصلخیزې ځمکې له منځه وړي.

**د موضوع شالید**

د هلمند د سیند په مرکزي او جنوبي سیمو کې د یوه پخواني تمدن د خورا ډیرو کنډوالو موجودیت ددې شاهدي ورکوي، چې یو مهال د هلمند وادي یوه حاصلخیزه کرنیزه سیمه وه، چې د هلمند سیند په اوبو خړوبیده. د اوېستا په زمانه کې (۱۰۵۰کلونه له میلاد وړاندې) د هلمند وادي د (هیتومنت) په نامه یادیدله، چې ډیر د اوبو ډیمونه پکې موجود وو. د اوبو لګولو د ډیرو سیستمونو، کانالونو او ډیمونو موجودیت، دغه سیمه په یوه بریالۍ او نیکمرغه سیمه تبدیله کړې وه. په تاریخ کې د دې سیمې بندونه د کنډک بند او ریګ بند په نومونو یاد سوي دي(سلیمان، ۱۹۵۷و ص ۷).

په کښته یا کوز هلمند کې د زرنج ښار یو نامتو پخوانی ښار و او تاریخپوهان یې د کوزني هلمند پلازمېنه ګڼي، چې د زرانکا، سیستان او نیمروز په نومونو سره هم یاد سوی دی (علي، ۱۹۵۵، ص ۳٦).

سیستان د هلمند سیند د دلتا سیمه ده، چې ۱۵۰۰۰۰کیلو متره مربع ساحه په برکې نیسې. د سیستان نوم د ساګاستان (د ساګانو ځمکه) څخه اخیستل سوی دی.کله چې عربانو نوموړې سیمه په لومړۍ هجري شمسې پیړۍ (اتمه عیسوي پیړۍ) کې ونیوله، هغه یې د سجستان په نامه یاده کړه (په عربې ژبه کې(ګ) نسته، پر ځای یې(ج) کارول کیږي)، وروسته په تدریجې ډول د سجستان نوم په سیستان بدل سو. ساګ یا ساک او یا

ساگزي د لوی پښتانه قام یوه قبیله ده او په پښتو ژبه کې د (زی) روستاړی د (زوی) لپاره کارول کېږي. اوس هم د ساگزي (د ساگ زوی) قبیلې ډېر وگړي په هلمند او کندهار ولایتونو کې اوسېږي. څلور زره کاله پخوا، د پارتیانو یا اشکانیانو پاچا په جگړه کې د مرستې لپاره د ساگ قوم ته راغلی و او زردشت تر میلاد زر کاله دمخه ساگانو ته پناه ور وړې وه.

بست چې په ځینو چاپي نسخو کې د کلابیس یا قلا بیست په نومونو هم یاد سوی، نن د هلمند ولایت مرکز دی. بست د سیمې یو بل لوی او مهم ښار و، چې په باغونو، ډېر نفوس او ښوونې او روزنې سره یې شهرت درلود. ویل کېږي، یو کانال چې نږدې ۳۰۰ کیلو متره اوږد و، د زرنج او بست ښارونه یې سره نښلول او له بست ښار څخه به د سوداگرۍ مالونه او خلک په بېړیو کې د همدې کانال له لارې وړل کېدل (علي، ۱۹۵۵، ص ۴۱)

په هلمند کې لښکرگاه (د پوځ ځای) د غزنوي کورنۍ او د داور ښار د غوري کورنۍ د ژمي پلازمېنې وې. پښتانه غوریان تر غزنویانو وورسته پر ټوله سیمه له درېیمې څخه تر پنځمې هجري شمسي پېړۍ (۱۰ او ۱۲مه عیسوي پېړۍ) پر قدرت وو. د تاریخپوهانو په نظر د شمال او لوېدیځ له خوا د یرغلگرو د بېلابېلو ډلو پرلپسې یرغلونو د هلمند سیمې لوی ښارونه او د اوبو لگولو اوږده کانالونه له منځه یوړل (کېنگ، ۱۹٦٦، ص۱۵۲).

د هلمند سیمه له اوومې هجري شمسي پېړۍ (۱۴مې عیسوي پېړۍ) څخه دمخه د مرکزي آسیا د خوراکي موادو یوه لویه حاصلخېزه سیمه وه، چې د مرکزي آسیا د غلې په کندو مشهوره وه، خو په دیارلسمه هجري شمسي پېړۍ (۲۰ عیسوي پېړۍ) کې دغه سیمه یوه لویه وچه وه، چې خاوره یې په مالگه او الکلي پوښلې او تخریب سوې وه. همدغه مهال دغه ټوله سیمه په یوه لویه وچه چې ډېره لږه شنه ځمکه یې د رود پر غاړه لیدل

کېده او ډېر نفوس یې نه درلود، بدله سوه. (بیرن، ۱۹۷۵، ص ۱۷؛ فاروق ۱۹۷٦، ص ۱).

افغانستان له ایران سره څه نا څه ۵۲۰ میله (۸۳۷ کیلو متره) اوږده پوله لري، چې ۱۷٦ میله (۲۸۲ کیلو متره) یې په کښته یا کوز هلمند کې له سیاه کوه څخه تر مالک سیا پورې پرته ده. د هلمند سیند اوبه له تېرو سلو کلونو راهیسې د افغانستان او ایران ترمنځ په اړیکو کې یو لوی مشکل و او د دغو دوو ګاونډیو هېوادنو ترمنځ یې اړیکې ترینګلې کړې وې. د هلمند سیند اوبه به په راتلونکې کې هم د دې وچې سیمې د میلیونونو خلکو د ژوند لپاره یوه اساسي او حیاتي سرچینه وي. که افغانستان او ایران د دواړو هېوادونو د خلکو په ګټه د اوبو او خاورې، ددغو سترو سرچینو کارونه او مصرف تلپاتې او همېشنی غواړي، نو ترمنځ یې تفاهم او همکاري اړینه څه چې بالکل حیاتي ده. دغه همکاري به په ځانګړي ډول پر ګډه پوله د دواړو خواوو د خلکو لپاره ډېره مهمه وي. د هلمند سیند د اوبو په اړه د افغانستان او ایران ترمنځ پر اړیکو باندې د پوهېدو لپاره د دواړو هېوادونو د ګډې پولې بیا تثبیت اړین دی، ځکه چې د هلمند سیند د اوبو د تګلوري یا مسیر بدلون، شدیدو ګردبادونو او نورو عواملو د سرحد نښانونه متضرر کړي، همدا راز د هلمند وادي د آبادۍ لپاره ددغې سیمې یوه ښه علمي او جامع څېړنه هم ډېره اړینه ده.

## د ګډې پولې ټاکل او د اوبو وېش

یوه برتانوي نظامي افسر، فریدریک ګولډسمید په ۱۲۵۱ل (۱۸۷۲م) کال کې د افغانستان او فارس (نننی ایران)، ترمنځ د پولې کرښه پر نقشه رسم او وټاکله.بل برتانوي نظامي افسر، هنري ماکماهون په ۱۲۸۴ل (۱۹۰۵م) کال کې د پولې د نوموړې کرښې ترڅنګ د دواړو هېوادونو ترمنځ د اوبو

وېش مشخص کړ. په ۱۳۱۴ل (۱۹۳۵م) کال کې د ترکيې فخرالدين التاى منځگړتوب تر ډېره د افغانستان او فارس ترمنځ د پولې موضوع وه، خو د دواړو هېوادونو ترمنځ د اوبو د وېش په اړه يې هم څه کار وکړ. دواړو هېوادونو څو څو ځله د هلمند د اوبو د وېش د ستونزې د حل لپاره هڅې کړي، خو وروستی حل يې د ۱۳۵۱ل کال په پای (۱۳مارچ ۱۹۷۳م) کې هغه وخت ومونډل سو، چې دواړه هېوادونه پرته له کومې بهرنۍ مداخلې يا منځگړتوب په خپله خوښه يوې وروستۍ هوکړې ته ورسېدل. دا په اسيا کې لومړني دوه هېوادونه وو، چې ويي کړای سول د اوبو خپلمنځي ستونزه په سوله ييز ډول حل کړي.

د هنري ماکماهون له منځگړتوب راهيسې (۱۲۸۴ل/۱۹۰۵م) چې فارس ته يې د هلمند سيند په اوبو کې حق ورکړ، د هلمند سيند د اوبو کارول د افغانستان د ټولو حکومتونو لپاره يوه مهمه موضوع وه. د ماکماهون له منځگړتوب وروسته دواړو هېوادونو هڅه کوله، چې د هلمند له سيند څخه ډېرې اوبه واخلي. فارس په خپل سيستان ولايت کې د هلمند پر سيند باندې پرمختيايي کارونه پيل کړل، همدارنگه افغانانو د هلمند له سينده د اوبو اخيستو لپاره په ۱۲۸۹ل (۱۹۱۰م) کال کې د سراج کانال د جوړولو کار پيل او په ۱۲۹۳ل (۱۹۱۴م) کال کې يې پای ته ورساوه.

افغان حکومتونو د بهرنيو او کورنيو بې ثباتيو له امله څه نا څه دوه لسيزې ونکړای سول، د هلمند سيند د اوبو له سرچينو څخه گټه واخلي، خو په ۱۳۱۲ل (۱۹۳۳م) کال کې د هلمند وادي ته يو ځل بيا پام واوښت. په ۱۳۱۳ل (۱۹۳۴م) کال کې جرمني او په ۱۳۱٦ل (۱۹۳۷م) کال کې جاپاني انجينرانو ته د هلمند وادي د آبادولو بلنه ورکړل سوه. که څه هم د دويمې نړيوالې جگړې شرايطو نوموړي انجينران مجبور کړل، چې د هلمند وادي د

آبادولو کار پرېږدي او افغانستان خوشې کړي، خو افغانانو د بغرا کانال د جوړولو کار ته دوام ورکړ.

دویمې نړېوالې جګړې په سیمه کې ډېر سیاسي بدلونونه راوستل او هم یې د نړۍ د قدرت توازن بدل کړ. افغان حکومت له امریکایانو څخه د افغانستان د اقتصادي آبادۍ غوښتنه وکړه چې په هغه کې د هلمند وادي آبادول او د افغانستان د پوځ عصري کول هم شامل ول. په دغه سلسله کې افغان واکمنو په پرلپسې ډول له امریکایانو څخه د مرستو غوښتنې وکړې، خو امریکایانو نه غوښتل چې له افغانستان سره مرسته وکړي. د بې علاقې امریکایانو د تشویقولو لپاره، خوارو افغانانو د امریکا د متحده ایالاتو شخصي ساختماني کمپنیو ته د اقتصادي انګېزو وړاندیز وکړ.

### له ۱۳۲۴ل (۱۹۴۵م) کال راهیسې د بنسټونو جوړول

د امریکا د متحده ایالاتو له یوې شخصي ساختماني کمپنۍ سره چې د *موریسن کنوډسن* په نامه یادېده، د یوه تړون له لاسلیکولو وروسته د امریکایي تخنیکرانو له خوا د هلمند وادي عصري ساختماني کار پیل سو. دغه کار د افغانستان او ایران ترمنځ د هلمند سیند د اوبو د وېش پر سر زړه مناقشه بیا راپورته کړه. ایران د افغانستان له لوري د عصري ټېکنالوژۍ په ذریعه له اوبو څخه د ګټې اخیستنې په اړه په غصه عکس العمل وښود، ځکه چې دغه کار په سیمه کې د اوبو د کارولو په برخه کې یو مهم بدلون رامنځته کاوه. افغانستان غوښتل د هلمند رود د پاکو اوبو په کنټرولولو سره خپل ولس ښېرازه کړي، خو دې کار د ایران لور ته د اوبو جریان محدوداوه. د افغانستان او ایران ترمنځ د هلمند سیند د اوبو د وېش په هکله مناقشه د ډېرو کلونو لپاره پرخپل ځای، پرته له دې چې کوم حللار ورته پیداشي پاتې سوه، څو ځله د همدې موضوع د عادلانه حل لپاره د دواړو

هېوادونو پلازمېنو ته پلاوي ولاړل راغلل، خو هغوی ونکړای سول، چې د ستونزې پوره او تلپاتې حل پيدا کړي.

کله چې محمد داؤد خان په ۱۳۴۲ل (۱۹۶۳م) کال کې له صدراعظمۍ استعفا وکړه، نو د افغانستان اړيکې له پاکستان او ايران سره بېرته عادي سوې، دواړو هېوادونو (افغانستان او ايران) په اخلاص هڅه وکړه، چې د هلمند د اوبو د اوږدې مودې ستونزې ته د حل يوه لار پيدا کړي. د دواړو هېوادونو هيئتونو جدي خبرې پيل کړې. دې ستونزې د افغانستان او امريکا د متحده ايالاتو ترمنځ هم اړيکې پيچلې کړې، ځکه امريکايانو په افغانستان او ايران کې په مختلفو شکلونو او ظرفيتو کار کاوه، نو امريکا په دې هکله له يوه سخت حالت سره مخامخ وه. امريکا غوښتل چې د افغانستان او ايران ترمنځ منځګړتوب وکړي، ترڅو له يوه لوري د امريکايي کمپنۍ *موريسن کنودسن* د کار په دوام سره په افغانستان کې د هغې ګټې وساتي، خو په عين حال کې يې په ايران کې هم د خپلو ستراتيجکو ګټو د ساتنې هڅه کوله؛ ځکه چې هغه مهال ايران د شوروي اتحاد پر ضد د امريکا مهم ملګری و. د سړې جګړې شدت، امريکا وهڅوله چې د افغانستان او ايران ترمنځ د ستونزې په حل کې يو رول ولوبوي. امريکا، د يوه بېطرف تخنيکي کميسون له لارې چې د *دلتا کميسون* په نامه يادېده، د افغانستان او ايران ترمنځ د هلمند سيند د اوبو د ستونزې په هکله د ۱۹۵۰م لسيزې په پيل کې د منځګړتوب هڅې وکړې، خو دا هڅې يوازې تخنيکي او فني وې.که څه هم دامريکا دغه هڅې هغه مهال ناکامې سوې، خو ليکوال په دې باور دی چې د امريکا د متحده ايالاتو دوامداره تشويق افغانستان او ايران وهڅول، چې دواړه په يوه آرامه فضا کې دغه موضوع د تخنيک او فن پر بنياد وڅېړي او د حل لار ورته ومومي.

د ۱۳۵۱ل کال د کب پر ۲۲مه (۱۳ مارچ ۱۹۷۳م) افغانستان او ایران په خپل منځ کې د هلمند سیند د اوبو د وېش د ستونزې د دایمي حل لپاره یو تړون لاسلیک کړ. د نوموړي تړون په اساس به افغانستان ایران ته په ثانیه کې ۲۲ متره مکعب اوبه ورکوي او افغانستان به د پاتې اوبو بشپړ اختیار لري، چې هرڅه پرې کوي. د افغانستان پاچا ظاهر شاه پر خپل ګاونډي هېواد (ایران) د ښې پېرزوینې له امله د ښه ګاونډیتوب په نوم په ثانیه کې څلور مترمکعب اوبه نورې هم ایران ته ورکړې. د دواړو هېوادونو ولسي جرګو او پاچاهانو نوموړی تړون لاسلیک کړ، خو د تړون د رسمي اسنادو تر تبادلې دمخه ظاهر شاه د محمد داودخان له خوا له واکه لیرې کړل سو، چې دلته بیا نوموړې ستونزه پر خپل ځای پاته سوه.

جمهور رئیس داؤد خان د هلمند د پروژې آبادۍ ته ډېره پاملرنه وکړه او د کښته یا کوز هلمند د آبادولو لپاره یې یو پلان جوړ کړ. امریکا له پیله د ایران په خاطر نه غوښتل په کښته هلمند کې انکشافي کار وکړي، خو داؤد خان اراده درلوده چې د افغان دولت په پیسو او تخنیکي فهم دغه سیمه تر خپله وسه آباده کړي، چې دغو نویو پرمختګونو ایران وارخطا کړ. ایران د هلمندسیند د اوبو د جریان د ثابت ساتلو لپاره افغانستان ته په وړیا ډول د خپل سمندري بندر د کارونې او د دوو ملیاردو ډالرو مالي مرستې وړاندیز وکړ ترڅو افغانستان د خلیج هېوادونو ته د هلمند وادي زراعتي محصولات ولېږي. همدارنګه ایران هوکړه وکړه چې له افغانستان سره به د هلمند پر رود د درې بندونو جوړولو (چې کمال خان هم پکې شامل و) او د هلمند وادي په آبادولو کې مالي مرسته کوي. د اوبو په بدل کې د ایران د یوه سمندري بندر اسانتیا او د تېلو له عوایدو د مالي مرستې وړاندیز، جمهور رئیس داؤد

خان په ۱۳۵٦ل (۱۹۷۷م) کال کې وهڅاوه، چې د ۱۳۵۱ل (۱۹۷۳م) کال د هلمند سیند د اوبو تړون ومني.

د هلمند سیند د اوبو د تړون د اسنادو د رسمي تبادلې او د ملګرو ملتونو په مؤسسه کې د نوموړي تړون له ثبت کولو څه وخت وروسته، په افغانستان کې واک کمونستانو ته په لاس ته ورغی او څه وخت وروسته هېواد د شوروي اتحاد له خوا د مستقیم کنټرول په منظور اشغال سو. په هلمند کې د آبادۍ ټول کارونه بند سول او هلته د موجوده لویو زېربناوو ترمیم ته هم پاملرنه ونه سوه. په هلمند کې فعالیتونه اکثره د کوکنارو کرلو او د نشه یي توکو تولید ته وقف سول. په افغانستان کې د شوروي اتحاد مسؤلو کسانو ځایي ملېشو ته د مجاهدینو پر ضد د جنګېدو په بدل کې د تاریاکو د کرلو امتیاز ورکاوه. پردې سربېره، شورویانو غوښتل خپل سرتیري په افغانستان کې خوشحاله وساتي، نو له همدې امله هغوی د خپلو سرتېرو له خوا د نشه یي توکو پر کارونه او قاچاق سترګې پټولې. د شوروي له خوا د افغانستان د اشغال پر مهال د لومړي ځل لپاره د نشه یي توکو د قاچاق یوه نوې لار د هېواد شمال، شوروي اتحاد او له هغه ځایه د اروپا پر لور پرانستل سوه او له هغه وخت راهیسې نوموړې لار یوه لویه او مشغوله لار پاتې ده. همدارنګه، په ایران کې د اسلامي انقلاب په ترسره کېدو سره د ایران لپاره لومړیتوبونه بدل سول او دواړو هېوادونو (افغانستان او ایران) ته دا لومړیتوب نه و چې د هلمند سیند د اوبو تړون ته یوه عملي بڼه ورکړي.

په ۱۳٦۷ل (۱۹۸۹م) کال کې له افغانستان څخه د روسانو تر وتلو وروسته، د کمونیستي رژیم پر ضد مقاومت او بیا وروسته د تنظیمونو ترمنځ جګړو د هلمند او ارغنداب وادي د بیا رغونې مخه ونیوله. که څه هم له ۱۳۷۴ل (۱۹۹۵م) کال راهیسې،کله چې طالبانو د هلمند او کندهار سیمو کنټرول په لاس کې واخیست، امنیت او آرامي راغله، خو د ملګرو ملتونو له خوا پر

افغانستان باندې د بندیزونو له امله بهرنیانو د هلمند وادي بیا آبادولو ته زړه ښه نه کړ. له ۱۳۷۷(۱۹۹۸) څخه تر ۱۳۸۰ (۲۰۰۱) کال پورې که څه هم په دغه حوزه کې آرامي وه، خو پرلپسې وچکالیو چې په تېرو ۱۷۵کلونو کې یې سارى نه درلود او هم د نړیوالې ټولنې له خوا د طالبانو سیاسي او اقتصادي تجرید، د هلمند سیند د اوبو د منابعو انکشاف ته موقع ورنکړه. همدارنګه د طالبانو په دوره کې د افغانستان او ایران ترمنځ ترینګلو اړیکو دواړو هېوادونو ته ډېره لږ موقع ورکړه، چې د خپلو خلکو د ګټو لپاره د هلمند سیند د اوبو له سرچینو څخه ګټه واخلي. د طالبانو د رژیم له له منځه وړلو وروسته د افغانستان او ایران ترمنځ اړیکې عادي سوې او د ۱۳۵۱ (۱۹۷۳) کال د هلمند سیند د اوبو د تړون عملي کولو ته یوه ښه موقع برابره سوه.

په ایران کې د چابهار بندر جوړېدل به له افغانستان سره مرسته وکړي، چې نور په بشپړ ډول د خپل ټرانزیټ لپاره پر پاکستان تکیه ونکړي، ځکه چې پاکستان اکثره وختونه د افغانستان پر ټرانزیټي مالونو سخت بندیزونه لګوي. د مرکزي آسیا هېوادونه د افغانستان او چابهار بندر له لارې عرب سمندرګي ته رسېدلاى سي او هند د چابهار او افغانستان له لارې مرکزي آسیا ته لار موندلاى سي. د هلمند سیند د اوبو حوزه د ذکر سوو تجارتي لارو لپاره یوه ډېره مهمه سیمه ده. که له چابهار بندر څخه د افغانستان لپاره په سم ډول کار واخیستل سي، نو د هلمند سیند د حوزې د زراعتي محصولاتو سوداګري به زښت ډېر پرمختګ وکړي. دا کار به د دوو ګاونډیو هېوادونو ترمنځ همکاري نوره هم پراخه کړي او افغانان به د اوبو په بدل کې د ایران له سمندري بندره وړیا کار اخلي. د امریکا متحده ایالات د هند په تخنیکي مرسته د چابهار بندر په جوړولو خوښ دي، خو چین په پاکستان کې د ګوادر بندر چې د چابهار بندر د ختیځ په ۱۰۰کیلو مترئ کې پروت

دی، جوړوي. څرنګه چې چین او پاکستان د هند دښمنان دي، نو ښایي ایران د چابهار بندر جوړولو کار وځنډوي، همدارنګه دا کار د ایران او امریکا په اړیکو پورې هم اړه لري، نو له همدې امله د افغانستان په بیه د چابهار بندر ته سیاسي بڼه ورکول کیږي، خو څرنګه چې د چابهار بندر د افغانستان لپاره سمندر ته د لارې موندلو له امله مهم دی، نو ښایي دا کار په راتلونکې کې د ۱۳۵۱(۱۹۷۳) کال د هلمند سیند د اوبو د تړون د عملي کولو په لار کې ډېره مرسته وکړي.

سوله او د افغانستان او ایران ترمنځ د ښه ګاونډیتوب اړیکې د دواړو هېوادونو په ګټه دي، په تېره بیا د هغو خلکو ډېر په ګټه دي چې د هلمند سیند اوبه کاروي. که د افغانستان او ایران ترمنځ اړیکې ښې وي، نو دا به د هغو بزګرانو او خلکو په ګټه وي چې د همدغو هېوادونو ترمنځ د ګډې پولې پر دواړو خواوو اباد دي. د ۱۳۵۱ل(۱۹۷۳م) کال د هلمند سیند د اوبو تړون د یوې دغسې صمیمانه سیاسي فضا د رامنځته کولو وړاندوینه کوي. ددې لپاره چې وپوهېږو دغه اړیکې او سیاسي فضاء څومره مهم دي، نو لازمه ده د هلمند سیند د اوبو پر تاریخ، منځګړتوبونو، خبرو اترو او تړونونو باندې یو ځغلنده نظر واچوو.